الله جل جلاله به د قيامت په ورځ هغه دوزخي انسان ته چې تر ټولو لږ عذاب ويني ووايي : که چېرته دې په ځمکه کې د ټولو شتو يو څه اختيار درلوده نو آيا نن ورځ به دې د فديې په توګه ورکړي وو؟ هغه به ووايي هو

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «الله جل جلاله به د قيامت په ورځ هغه دوزخي انسان ته چې تر ټولو لږ عذاب ويني ووايي : که چېرته دې په ځمکه کې د ټولو شتو يو څه اختيار درلوده نو آيا نن ورځ به دې د فديې په توګه ورکړي وو؟ هغه به ووايي هو، نو وبه وايي: ما درڅخه لدې اسانه غوښتنه کړې وه، په داسې حال کې چې ته د آدم په شا کې وې چې: ماسره به هېڅ شی نه شريکوې، خو تا ونه منله مګر دا چې ما سره شرک وکړې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دوزخ ته له ننوتلو وروسته به الله جل جلاله تر ټولو د لږ عذاب خاوند ته ووايي: که چېرته دې ټوله دنيا او څه چې پکې دي درلودل نو آيا هغه به دې د فديې په توګه ورکړي وو تر څو له دې عذاب څخه خلاص شوای وې؟ هغه به ووايي: هو، نو الله جل جلاله به وفرمايي: يقينا چې ستا څخه مې لدې آسانه غوښتنه کړې وه، کله چې ته د آدم په شا (ملا) کې وې او ستا څخه ژمنه واخېستل شوه چې ما سره به هېڅ شی نه شريکوې، نو کله مې چې دنيا ته راوويستې انکار دې وکړ او ما سره دې شرک وکړ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8315